مور به له (حيض څخه د پاکوالي نه وروسته) خړوالي او زيړوالي (خړو او زيړو اوبو) ته نه لېدل (يعني لمونځ به مو ورسره کاوه)

له أم عطية رضي الله عنها څخه روايت دی او دا هغه مېرمن وه چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې بيعت کړی و، فرمايي: مور به له (حيض څخه د پاکوالي نه وروسته) خړوالي او زيړوالي (خړو او زيړو اوبو) (ته نه لېدل (يعني لمونځ به مو ورسره کاوه).

[صحيح دی] [ابو داود په دې لفظ روايت کړی او البخاري د (بعد الطهر) له زيادت پرته روايت کړی]

له ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې به ښځو له حيض څخه د پاکوالي نه وروسته له شرمګاه نه وتونکو هغو اوبو ته پام نه کاوه چې تور رنګې يا زيړ رنګې به وې، او له امله به يې لمونځ يا روژه نه پرېښوده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10014

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee